زما د امت په پای کې به داسې خلک وي چې تاسو ته به هغه څه بیانوي چې تاسو او ستاسو پلرونو به نه وي اوربدلي، نو پام وکړئ او ځان ترې وساتئ

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «زما د امت په پای کې به داسې خلک وي چې تاسو ته به هغه څه بیانوي چې تاسو او ستاسو پلرونو به نه وي اوربدلي، نو پام وکړئ او ځان ترې وساتئ».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د هغه د امت په پای کې به داسې خلک راڅرګند شي چې دروغ به جوړوي او هغه څه به وایي چې له دوی نه مخکې چا نه وي ویلي، او له دروغجنو او جعلي حدیثونو څخه به خبر ورکوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر کړی دی چې له داسې - خلکو - څخه لرې شو او ناسته یې ونه کړو، او د حدیثونو له اوربدلو څخه یې ډډه وکړو، تر څو هغه له ځانه جوړ شوي حدیثونه په زړونو کې ځای ونه نیسي، چې بیا به ترې ځان نشو خلاصولی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65076